QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 04 (2025)

# د حسین احمد صادق د نظم ” متېزه “ یو نفسیاتي جاج

# A PSYCHOLOGICAL STUDY OF HUSSAIN AHMAD SADIQ'S POEM MATIZA

**Balqees** [1]
MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan
**Dr. Shukria Qadir** [2]
Assistant Professor Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

**Abstract:**
*This research presents a psychological analysis of Hussain Ahmad's poem Matiza, which portrays the tragic consequences of a girl's secret marriage without parental consent in Pashtun society. The poem reveals the intense emotional suffering of the girl, the trauma of her parents, the humiliation of her siblings, and the pervasive societal stigma. It reflects how personal choices, when conflicting with cultural norms, lead to shame, guilt, and social exclusion. The study argues that Matiza mirrors the deeper psychological struggles between individual freedom and rigid socio-cultural traditions.*

**Key Words:**
Matiza, Hussain Ahmad Sadiq, Pashto poetry, psychological analysis, family trauma, social stigma, cultural norms, individual freedom, gender studies, Pashtun society.

د مردان خاوره ډېره زرخېزه ده. دا خاوره زرګونه کاله زوړ کلتوري تاریخ لري. په دې خاوره ترټولو لوی ثبوت د ګندهاره تهذیب اثاردي چې کاټلنګ ، تحت بهائي او سري بهلول وغېره ځایونو کښې موجود دي. دې قاضي عبدالحلیم اثر افغاني غوندې خېړنکار ، د فېض الوهاب فېض غوندې قلم کاران ، د عظیم خان عظیم غوندې نقادان ، د ابرار غر او سېدقیوم نېکنام غوندې غزل ګو، د ساجد شائق غوندې محققین او دوست محمد فاني غوندې نعت خوانان زېږولي دي. هم دغه رنګ په دې کښې د نظم او غزل لوئي شاعر حسین احمد صادق هم دے. حسین احمد صادق چې د پښتو ژبې علامه اقبال خطاب یې په خپل نوم کړے دے. حسین احمد صادق صېب د فکرو فن په حواله د هشنغر ګران بابا لیکي چې

” کله چې هم د فکرو فن یا نور څه د کمال ښتن ته لقب یا خطاب ورکړے شوے دے نو زیات نه زیات د زر اتۀ سوه کسانو په وړاندې ورکړے شوے دے. خو ښاغلي حسین احمد صادق ته چې پېښور شاهي باغ د لکهونو په اجتماع کښې د صوبه سرحد سینئر وزیر ښاغلي سراج الحق د پښتو ژبې د علامه اقبال خطاب ورکړو نو ما ووې حق حقدار ته ورسېدو “[1]

حسین احمد صادق په مردان کښې د تحت بهائي مزدور اباد کلي زېږېدلے دے او هم دلته اوسېږي. صادق یې تخلص دے او د پلار نوم یې عبدالستار دے. د زېږون نېټه یې ۱۹۵۲ ده.

” دا خو زما د مشرانو ترۀ ځامنو سره شناختي کارډونه وو او زما سره نۀ ؤ. پخوا به شناختي کارډونه د کمېټۍ په دفتر کښې جوړېدل. دومره تحقیق هم نۀ ؤ ، زما عمر کم ؤ ، خو د ونې نه دنګ ووم ، باډي مې برابر وه. چې لاړم نو هغوي کاغذنو ته عمر برابرؤ نو ۱۹۵۳ ءئې راله ولیکو. زما پلار په دې کښې ډېر حساس ؤ ، د ټولو ماشومانو د زېږون

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 04 (2025)

نېټې ئې ليکلي دي. هغې کښې زما د زېږون نېټه ۱۹۵۲ ء ده او سکول کاغذونو کښې
مې هم دغه نېټه ده "[2]

تر دې دمه د دې ښاغلي څلور کتابونه چاپ دي. " د صحرا ګلونه " چې تذکره ده او په دې کښې د قطر د مسافرو شاعرانو اديبانو تذکره ده. " روښانه سحر " چې د هغه انقلابي نظمونو او نعتيه کلامونو مجموعه ده. کوم چې خدائے بخښلي حافظ عبدالرحمان په خپل خوږ غږ مختلفو جلسو جلوسونو کښې زمزمه کړي وو. " سوراړا " دا کتاب په ۱۹۸۸ء کښې چاپ دے. چې د چاپ نېټه حسب روايت د تړون د مخ نه وړاندې مخ باندې درج ده. او يونيورسټي پبلشرز له خوا چاپ دے. دوېم چاپ يې ۲۰۰۴ او درېم چاپ يې ۲۰۱۴ء کښې شوے دے. دا کتاب ټول ۲۲۵ مخونه لري. حمد و نعت نه علاوه دا کتاب پوره ۱۰۹ غزلې لري. د کتاب په اخرۍ برخه کښې نظمونه دي. چې تعداد يې دولس دے. چې عنوانات يې څۀ داسې دي. انتظار ، صبا ، تصوير. د اختر شپه ، زۀ او اختر ، د جانان کور ، درويشتم مارچ ، وطنه ، زما ځواني ، پاکستان ، د عقيدت پېرزوئينه ، باران ، د مسافر اختر.

څلورم کتاب يې " غندلې " دے. چې په کال ۲۰۱۴ کښې چاپ دے. اولنے کلام حمديه او ورپسې دوېم نعتيه کلام دے. ټولې په کښې ۱۲۲ غزلې دي. په دې کتاب کښې وولس هائيکو شامل دي. هائيکو جاپاني صنف دے. خپل چوکاټ لري خو چې پښتو ته راغله نو پښتو د ځان سره پښتنه کړه او د خپل مزاج مطابق يې کړه حسين احمد صادق هم ګڼ شمېر چاپ نا چاپ هائيکو ليکلي دي. هائيکو يې بامقصده او ټول پوره دي. په دې کښې څلور پابند نظمونه دي. چې د کتاب په مينځ مانه کښې دي. په کتاب " غندلې " کښې په اخري برخه کښې پوره لس معريٰ نظمونه شامل دي. ښاغلے د ښۀ غزل سره سره يو ښۀ نظم ګو شاعر هم دے. د نظم تسلسل او تړون يې د اعلي پېمانې وي. د صادق د نظم ګوهۍ په حقله ښاغلے پروفېسر ګوهر نويد کاټلنګ ليکي چې

" د حسين احمد صادق کمال يوازې دا نۀ دے چې د پښتو غزل ناوې د ډول سنګار د پاره يې د خپل زړګي وينې ورکړي دي بلکې د معري نظم کمزورې او تتې ډيوې يې د خپل سپېڅلي فکر په زريعه رڼا کړي دي. په دې رڼا کښې روتلونکي شاعران د خپل منزل طرف ته په اسانه مزل کولے شي. د هغه هر يو شعر د ژوند تجربو نه ډک دے او د فکر ښائسته ترجمان دے. ځکه خو هغه وائي چې

غزلې راته وائي کۀ نظمونه راته وائي
صادقه ستا په شعر مې د فن مينه ماتيږي "[3]

هم دې کتاب غندلې کښې د حسين احمد صادق يو نظم " متيزه " هم شامل دے. لفظ متيزه د دوه لفظونه مرکب دے. مټ ، يزه. هغه پېغله چې هغه په خپله خوښه هر څۀ کوي. مطلب په خپل مټ په خپل لاس خپله فېصله وکړي. هغه پېغله چې متهوره وي. او د پښتو د رسم رواج دستور نه بغاوت وکړي. يعني يوه جينۍ د پښتنو د دود دستور ، رسم و رواج هر څۀ نه راتېره شي. او په خپله خوښه باندې د هلک سره په پټه ووځي. داسې جوړه پښتانۀ ډېره کمه ژوندي پرېږدي. امروزه ژوند کښې مونږ اورو چې د غېرت په نوم داسې جوړې قتل کيږي.

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES
ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 04 (2025)

نظم " متېزه " کښې د پښتنې ټولنې د جوړښت ژوره انځورګري شوې ده. دا نظم په ښکاره د يوې پېغلې د ذاتي انتخاب او عمل ملامتيا کوي. خو باطن کښې د پښتنې ټولنې هغه سخت بند بزونه هم څرګندوي. چې د ښځې ازادي محدودوي. داسې هم شوي دي چې هلک هر قسمه شرطونو ته تيار وي. څو ځله جرګې هم وکړي. خو ولې بيا هم د جينۍ کورنۍ خپله انا او ضد راتينګ کړے وي او نۀ يې ورکوي. نو کله کله مجبورا هم هلک او جينۍ دغه قدم پورته کولو باندې مجبوره شي. راځم د نظم شعرونو ته چې صادق صېب د نظم تمهيد څنګه کېږدي.

تۀ له پښتنې مورې پېدا وې پښتنې لورې
تۀ د يو پښتون بابا عزت وې د غېرت په شا
ستا د هر قدم سره زنځير د اختياط ښۀ ؤ
يه ملالې پېغلې دا په کو مو شاړو سر شولې [4]

په اغاز کښې شاعر يوې پېغلې ته تولنيز اقدار مخې ته کېږدي. چې ستا مور ستا دپاره مثال ؤ. هغې ژوند په يو محدود چوکاټ کښې تېر کړے دے. هغه چوکاټ چې د معاشرې د عزت او وقار نخښه ګڼل شي. بلخوا ورته ښائي چې ستا پلار هم د خپله کلتوره بهر قدم نۀ دے ايښودلے. تا څنګه داسې وکړل. ستا هر قدم دلته د رسم رواج او د کلتور په زنځير کښې بند پکار دے. او بيا ورته خپله ماضي ورښائي چې تۀ هم د غېرت نخښه وې. تۀ خو خپله هم ملاله وې. مخکښې وائي چې

چا درته وئيل چې ځانله يار د مينې ونيسه
دا خو د پښتو پښتونولۍ قانون کښې جرم دے
ځه چې ياد دې ونيوۀ بيا هم خبره پټه وه
يا خو به د ورځې اشارې وې يا د شپې ديدن [5]

په دې کښې شاعر ورته وائي چې تاله يار نيول نۀ پکار. او دا ځکه چې کۀ تۀ يار نيسې مينه کوې. خپله خوښه کوې. نو دا خو پښتو قانون کښې جرم دے. يعني شاعر دلته نرمي اختيار کړې ده. باطن ته کۀ دې شعر ګورو نو هغه وائي چې تۀ هم انسان يې خو خپله خوښه يا ازادي کول دا دې معاشره کښې جرم دے. ورپسې شعر کښې ورله اجازت هم ورکړے چې مطلب تا کول خو پټ پټ به دې کولے. هغه کۀ د ورځې اشارې او د شپې ديدن وو خو پټ خبر ؤ.

وې به ګونګوسې خو ستا د کور خلق خبر نۀ وو
مور دې د نکريزو رنګ وېښتو له ورکولے شو
پلار دې په پيرۍ کښې شمله جګه ګرځولې شوه
مور دې د نکريزو رنګ وېښتو له ورکولے شو
ورونړو دې کاږۀ وارۀ ګامونه اخستلے شو
خوېندو دې همزولو سره ټوقې وشتې کړلے شوې [6]

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 04 (2025)

دلته ښاغلے د یوې پېغلې د انتخاب او من مانۍ اثرات په ټوله کورنۍ ښودل غواړي۔ چې ستا د دې قدم سره به نوره کورنۍ د څومره دباؤ ښائي۔ د هغوي چې کوم امروزه ژوند دے۔ د هغې د معمول خبره کوي۔ مخې ته یې کېږدي چې دوي داسې ژوند کاؤ۔ خو چې تا داسې قدم پورته کړو نو بیا به څنګه وي۔

پېغلې چې یاري کوي نو سمه جواري کوي
داؤ کښې د هوس د خاندان عزت هم اوبائیلي
ستا په متېزتوب د کوره تلۀ خو قیامت وو سم
مور دې د سپین سر وبښتۀ په لاسو شوکولي دي
پلار له دې د مخ کونجو ، کښې اوښکو قوتي جوړ کړۀ
ورونه دې له کوره بهر تلے نۀ شي په ستر شول
خوېندې دې وس غلي غلي ګرځي لکه تورې وي
تا خو لکه واړه خاندان د خاؤرو لاندې کړ و[7]

دلته یو بله ناروه سره یې تشبیه ورکړې ده۔ " جواري " چې په اسلام او پښتو کښې حرامه ده او تل د تاوان سبب جوړیږي۔ او معاشره بګاړ طرف ته بیائي۔ ښاغلے وائي چې د پېغلو یاري کول خو جواري وي۔ او د دې په داؤ کښې د خاندان عزت او وقار بائیلل کیږي۔ دې اشعارو کښې د مور وېښتۀ د سره شوکول د غم او خفګان علامت ګڼلے شي۔ پښتنه ټولنه کښې د نارینه د سترګو نه د اوښکو بهېدل د انتهائي د صدمې او بې وسۍ نخښه ګڼل شي۔ صادق د هغه پښتون بابا د پښتنو سترګو نه د اوښکو وتلو ذکر کوي۔ او د انتهائي صدمې بیان کوي۔ د رونړو پټ مخ ګرځېدل د ټولنیز اضطراب څرګندونه ده۔ د خوېندو یې همزولو سره خبرې نۀ کول د د شرم اظهار دے۔ او زمونږ معاشره کښې عامه وي چې یوه خور داسې وکړي نو باقي خوېندو سره یې د کلي جونه ملګري هم پرېږدي او په بده ورته کتل شي۔ اکثر پسې رشتې راتلل هم بند شي۔

دلته د ښاغلي ژبه ډېره د ملامتیا او د پېغوره ډکه ده۔ دلته یې د ټولنې تعصب او بدرنګي ښکاره کړې ده۔ چې د کور د یو وګړي په جرم ټول کور ګناهګار کړي۔ او ټول کور ته پېغور شي۔ دا د ټولنې د سنجوي تعصب څرګندونه ده۔ ځکه چې د یو کس غلطي په ټولو باریږي۔ خو د نظم په اخر کښې دا د معاشرې په خلۀ لګیا شي ۔ وائي چې

اے نو راته ووایه چې ستا انجام به څنګه وي
دا د پښتنو وطن دے چرته پټېدلے شې
یا خو به سر اوخورې د خپل یار سره به خاورې شې
یا کۀ مو نېټه نۀ وي پوره او ژوندي پاتې شوئ
دغه ستا خاوند چې څۀ موده مخکښې دې یار ؤ
دے چې دې ځواني نچوړ کړي بیا به درته ووائي
ورکه شه متېزې زۀ دې هسې در په در کړمه
خوېندې به یې هم درته په سپک نظر کاتۀ کوي
مور خو به یې هر وختې پچموزې کوي تا پسې

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 04 (2025)

ستا بچي به یاد وي د متیزې د بچو په نوم
 څوک چې درته ګوري وائي به دا هغه متېزه ده
دا پېغور به ټول عمر دا ستا د غاړې غور شي[8]

دلته ښاغلے د دې پورته شوي قدم د انجام خبره کوي۔ چې تا خو په ټولو پښتني اقدارو پښې کېښودلې خو وس به د دې انجام څنګه وي۔ اول چې پښتنو د دې دپاره یو ترلې لاره وي چې هلک او جینۍ دواړه مړهٔ کړي۔ کله کله هم دې معاشره کښې شوي چې د هلک کور زورور شي نو بیا سزا صرف جینۍ ته سزا ملاؤ شي۔ خو ښاغلے وائي چې اولنۍ ستاسو دغه لاره ده۔ وس کهٔ چرې ستاسو نېته نه وه پوره نو دوېمه لار هم ستا دپاره د ذلالت ده۔ ځکه چې ستا سره وتونکے هلک ستا د ځوانۍ له کبله په تا مئین دے۔ نو چې کله ستانه ځواني لاړه شي۔ نو بیا خو ته د هغهٔ دپاره بې قیمته یې۔ دلته ښاغلے د یوې بلې خبرې هم نشاندهي کوي۔ کوم خلق وفادار وي۔ نو هغه د خپل کلتور او پښتني اقدارو هم پاسدار او وفادار وي۔ او چې کوم پردۍ تورسرې بیائي هغهٔ خو اول د خپل خاندان د وقار او پښتو خیال ونهٔ ساتو نو سبا به ستا څهٔ خیال وساتي۔ چې ځواني دې د لاسه ووځي بیا به تاته هغه د متېزتوب پېغور کوي۔ داسي د هغهٔ خوېندې او مور۔ دا هر څهٔ خو څهٔ کوې چې پښتانهٔ خو به دې بچو ته هم پېغور کوي۔ او تاته چې څوک هم ګوري نو ده متېزه به درته وائي۔ او داسې به دا ستا د غاړې غور شي۔ غور داسې یوه بیماري ده چې په مرۍ کښې موجود ګلېنډز دومره وپړسیږي او غوښه ترې جوړه شي۔ چې د هغې له وجې انسان ډېر په عذاب وي۔ هغه په ناسته ، په ولاړه هن تر دې چې په ملاسته هم په عذاب کښې وي۔

لنډه دا چې دا نظم د فردي ازادۍ غوښتنې او د سماجي دباؤ ترمېنځه یو ټکر دے۔ دې کښې د جذباتو غلبه په عقل ښودل شوې ده۔ روسته هم دا جذبات د هغې دپاره د مستقل ورانې دباؤ سبب ګرځي۔ ځکه چې د تولنې سپکاوے ، ټول خاندان ته سزا ورکول ،د خپل یا پېغور او دا پېغور د مرګ پورې نهٔ بلکې تربچو او نوسو پورې چلیږي۔ چې دغه پېغور په اوګو بار ګرځوي۔ دلته دا هم ښودل شوي چې د جذباتو په بنیاد ودونه کول اکثر دوامداره نفسیاتي فشارونو سبب ګرځي۔ خو کهٔ بل خوا ګورو نو په دې کښې ترټولو نفسیاتي تضاد دا دے چې د خوښې وادهٔ کول د خوشحالۍ او څوکالۍ لاره ده۔ خو د ټولنې دپاره دا د شرم او د سپکاوي نښه ګرځي۔ د نظم ژبه پېغور ، ویره او ملامتیا نه ډکه ده۔دا ژبه لوستونکي ته هم د ټولنې د فکري سختۍ احساس ورکوي په شعوري توګه د نظم اغېز د شرم ، مجرم احساس او د فشا د لا زیاتېدو سبب کیږي ۔ په دې نظم کښې ښاغلے د ټولنې هغه ذهنیت ښکاره کوي چې د یوې جینۍ پرېکړه د کورنۍ د تلپاتي شرم په بڼه بدلوي۔

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 04 (2025)

## حوالې

[1] : صادق ، حسېن احمد ، روښانه سحر : سورج پرنټرز ډهکي نعلبندي پشاور ، اکتوبر ۲۰۰۳ مخ د کتاب شا پاڼه

[2] :حسین ، فاروق جان ، ځلنده ستوري ، عامریاد پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۲۵ مخ ۱۳

[3] : صادق ، حسېن احمد ، غندلې : یونیورسټي پبلشرز پېښور ، جنوري ۲۰۱۴ مخ ۱۳

[4] : : صادق ، حسېن احمد ، غندلې :یونیورسټي پرېس پېښور ، جنوري ۲۰۱۴ مخ ۲۲۱

[5] : هم دغه اثر..... هم دغه مخ

[6] : هم دغه اثر..... هم دغه مخ

[7] : هم دغه اثر..... هم دغه مخ

[8] : هم دغه اثر..... هم دغه مخ